مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۴/۱۳

# غـزل

د جګړې تېغ مو پر مرۍ کاږي، مونږ هېڅ نه وایو
قبرونه مونږه ته نړۍ کاږي، مونږ هېڅ نه وایو

وهمه چیغې چې بیدار کړمه پښتون له خوبه
داغ مو پر سر د غدارۍ کاږي، مونږ هېڅ نه وایو

د سر سړو څخه یې قام د پښتنو خلاص کړی
اوس یې له کور او له کږدۍ کاږي، مونږ هېڅ نه وایو

څلور لسېزې شوې وطنه! خو ته نه جوړېږې
ستا وران بدن مو له سیالۍ کاږي، مونږ هېڅ نه وایو

پښتونه ویښ شه او ناره د انقلاب پورته که
تعبیر د خوب دې آزادۍ کاږي، مونږ هېڅ نه وایو

خوار پسرلی ورته مدام له بې وسۍ ولاړ وي
کرښې خزان د بدمرغۍ کاږي، مونږ هېڅ نه وایو

مصطفی پسرلی
2020/04/12


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ